هفته واره رساله

# د کمو خبرو کولو فائدې

(د امیرِ اهلِ سُنَّت د کتاب د خبرو کولو آدابو نه اووم قسط)

د خبرو کولو څلور قسمونه

ډېرې خبرې کوونکی به یا پښېمانه کېږي

کور به د امن نه ډک کېږي

د خاموشۍ په برکت د حضورِ مصطفٰی ﷺ دیدار


شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د کمو خبرو کولو فائدې

دُعائے عطّار: یا ربِّ کریمه! څوک چې دا رساله " د کمو خبرو کولو فائدې " ولولي یا واوري هغهٔ ته د کمو خبرو کولو او د ډیرو ښه کارونو کولو توفیق ورعطا کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه وبخښې-

اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت ابو المُظَفَّر محمد بن عبد الله خَیّام سمر قندي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: زما نه یوه ورځ لاره هیره شوه، ناڅاپهٔ یو صاحب پهٔ نظر راغلو او هغوئي ووئیل: "زما سره راځه-" زهٔ د هغهٔ سره روان شوم- زما ګمان شو چې دا حضرت سیدنا خضر عَلَيْهِ السَّلَام دے- زما پهٔ پوښتنه باندې هغوئي خپل نوم خِضر وښودلو، د هغوئي سره یو بَل بزرګ هم وو، ما چې د هغوئي نوم معلوم کړو نو هغوئي وفرمائیل: دا اِلیاس (عَلَيْهِ السَّلَام) دے- ما عرض اوکړو: الله پاک دې پهٔ تاسو باندې رحمت وفرمائي، آیا تاسو دواړو حضراتو د نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت کړے دے؟ هغوئي وفرمائیل: آؤ- ما عرض اوکړو: د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نه اورېدلے شوے یو ارشادِ پاک راته ووایئ د پاره د دې چې ستاسو نه یې روایت کړم- هغوئي وفرمائیل چې مونږ د رسولِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اورېدلي دي چې کوم کَس په ما باندې درودِ پاک ولولي د هغهٔ زړهٔ د نفاق نه داسې پاک کړے شي لکه څنګه چې په اوبو باندې کپړه پاکولے شي- کوم کَس چې "صلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد" لولي نو هغه په ځان باندې د رحمت 70 دروازې برسېره کوي- (القول البدیع، ص: 277، جذب القلوب، ص: 235)

زمانے والے ستائیں، دُرودِ پاک پڑھو

جہاں کے غم جو رُلائیں، دُرودِ پاک پڑھو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## انسان د نافرمانۍ یو لفظ هم دوزخ ته رسولے شي

بعضې وخت مسلمان په بے خیالۍ کښې داسې خوږه خبره اوکړي د کومې نه چې هغه پخپله هم خبر نهٔ وي او اللہ کریم د هغهٔ نه رضا شوے وي، او څوک په بے پرواهۍ کښې یوه نیمه خبره داسې اوکړي چې هغهٔ ته د هغې پته هم نهٔ وي حالانکې د هغهٔ د بکواس د سپېرهٔ والي نه تباهي د هغهٔ مقدر شوې وي- د حضرت سیِّدُنا ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، د مدینے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: بے شکه بنده کله د اللہ پاک د رضا کولو داسې کلمه (یعني جمله) ووائي چې هغې طرفته د هغهٔ

پام هم نۀ وي، او د هغې پۀ وجه الله پاک د هغۀ ډېرې درجې اوچتې کړي او بے شكه بنده كله د الله پاک د نافرمانۍ داسې كلمه (يعني جمله) ووائي چې هُغه طرف ته يې پام هم نۀ وي او د هغې پۀ وجه دوزخ ته پرېوځي-

(مشكٰوة ج:2، ص،189، حديث:4813)

## خراب صحبت تباه و برباد کړو

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اوس زړۀ درزوونكے حديث شريف بيان شو، واقعي ژبه ښه پۀ سوچ سره خوزول پكار ده، د ژبې د حفاظت ذهن جوړولو كښې د دعوتِ اِسلامي ډېر اهم كردار دے، مونږ ټولو ته د دعوتِ اِسلامي پۀ ديني ماحول كښې د پاتې كېدو سره ښه ديني كارونه كول پكار دي او هميشه د خراب صحبت نه ځان بچ ساتل پكار دي- د غلط صحبت پۀ وجه د بربادېدو نه پس پۀ هدايت مېلاؤېدو د عاشقانِ رسول پۀ بركتې صحبت كښې د راغلي خوش قسمته اِسلامي ورور " مدني سپرلے " واورئ- د كراچۍ د علاقې " گلستانِ جوهر " يو اِسلامي ورور د غلطو ملګرو د ناستې پاستې پۀ وجه د بد اخلاقۍ او ګناهونو پۀ ډنډه كښې انښتے وو، د هغۀ د سندرو اورېدو سره ډېر شوق وو او بيا دا شوق دومره زيات شو چې هغه به پخپله پۀ مختلفو پروګرامونو كښې سندرې وئيلې او د خلقو نه به يې داد اخستلو- د دې نه علاوه چرس څښل د هغۀ معمول وو، د ګناهونو عادت يې دومره زيات شوے وو چې

د بے حیایۍ خبرې کول او دروغ وئیل هغۀ ته هډو عیب نۀ ښکارېدو، د خوش قسمتۍ نه پۀ کال 2005 کښې هغۀ ته مدینةُ الاولیا [یعني د اولیائے کرامو رَحْمَةُاللهِعَلَيْه م ښار] ملتان شریف کښې د دعوتِ اِسلامي د درېو ورځو بین الاقوامي د سنتو نه ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو سعادت حاصل شو او د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه مرید هم جوړ شو خو د اجتماع نه د واپس کېدو نه پس هغه بیا د غلطو ملګرو سره ناسته پاسته شروع کړه او بیا د ګناهونو سلسله شروع شوه- یوه ورځ هغه ناڅاپۀ د ذهني مرض ښکار شو د کوم پۀ وجه چې د هغۀ نه سورۀ فاتحه هم هېره شوه او هغه پۀ خپل کور کښې د لېونو پۀ شان اوسېدو، خپل مور او پلار به یـې خپل دښمنان ګڼل، د هغۀ حالت دومره خراب شو چې د خپل مرض پۀ وجه به یـې نۀ ډوډۍ خوړلے شوه او نۀ به اودۀ کېدے شو، اخر هغه د لېونو پۀ هسپتال کښې داخل کړے شو- د هغۀ مور به د خپل ځوي دغه حالت نشو لیدے او هغې به د هغۀ د پاره ډېرې دعاګانې او وظیفې کولې، یوه ورځ د هغۀ مور له پۀ خوب کښې یو بزرګ تشریف راوړو او د څۀ عمل پۀ باره کښې یـې ورته ووئیل- د هغۀ مور به بغیر د څۀ دمې هغه عمل کولو، د هغه عمل پۀ برکت پۀ ورو ورو د هغه اِسلامي ورور حالت ښه شو او هغه پۀ جسماني توګه روغ شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه! یوه ورځ هغه هم راغله چې هغۀ د دعوتِ اِسلامي د سنتو زده کولو ښودلو مدني قافله کښې سفر اوکړو چرته چې د هغۀ د عاشقانِ

رسول پهٔ صحبت کښې د ګناهونو نه د بچ کېدو ذهن جوړ شو او هغه پهٔ ديني ماحول کښې کور جوړ کړو او د دعوتِ اِسلامي د ديني کارونو کولو سره د ډويژن پهٔ سطح د مدني انعامات (کوم ته چې اوس " نېک اعمال " وائي) ذمه دار هم جوړ شو۔

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو** رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم **عاشقانو!** بيان شوے مدني سپرلے مونږ ته د فِکر دعوت راکوي چې مونږ پهٔ خپله ناسته او ملګرتيا باندي يو ځل بيا نظر واچوو، چرته داسې نهٔ وي چې د نېکو اعمالو نه د لرې وتو وجه زمونږه غلطه ملګرتيا او غلطه ناسته پاسته وي!! حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: " د خرابو خلقو ناسته فائده او د ښه [خلقو سره] ناسته نقصان چري هم نشي درکولے۔ د بهتې والا سره مشک نهٔ مېلاوېږي، صرف ګرمي او لوګے مېلاوېږي۔ د مُشکو (د خوشبو) والا سره نهٔ ګرمي مېلاوېږي او نهٔ لوګے، مُشک يا خوشبو به مېلاوېږي۔" نور فرمائي: " چې څومره درنه کېدے شي د غلطې ناستې پاستې نه ځان بچ کوئ ولې چې دا دين او دنيا بربادوي او ښه ناسته پاسته اختيار کړئ ولې چې د دې سره دين او دنيا ښه کيږي۔ د مار سره ناسته ژوند اخلي۔ د غلط ملګري سره ناسته ايمان بربادوي۔" (مراٰۃالمناجیح، ج:6، ص:591)

حضرت مولانا روم رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي:

صُحبتِ صالِح تُرا صالِح کُنَد صُحبتِ طالِح تُرا طالِح کُنَد

يعنې د ښه صحبت به تا ښه او د خراب صحبت به تا خراب کړي- (مثنوی، دفتر اوّل، ص:22)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## خبرې د فضولياتو نه د پاکولو بهترينه نُسخه

خبرو کښې د کمې راوستو خواهش لرونکو د پاره خپلې خبرې د فضول الفاظو او مختلفو خرابيانو نه د پاکولو د پاره په " احياءُ العلوم " کښې څه داسې ليکلے شوي دي: د خبرو څلور قسمونه دي: ﴿1﴾ پوره نقصان والا خبرې ﴿2﴾ پوره فائدې والا خبرې ﴿3﴾ داسې خبرې چې نقصان هم ورکوي او فائده هم ورکوي، او ﴿4﴾ داسې خبرې چې نۀ پکښې فائده وي او نۀ نقصان نو وړومبی قسم خبرې کومې چې ټولې د نقصان دي د هغې نه هميشه بچ کيدل ضروري دي او دغه شان د دريم قسم والا خبرې چې نقصان او فائده پکښې دواړه دي، د دې نه هم بچ کيدل لازمي دي او کومې چې څلورم قسم دي هغه په فضولياتو کښې شاملې دي چې نۀ پکښې فائده شته او نۀ نقصان، ځکه په داسې خبرو کښې وخت ضائع کول هم يو قسم له نقصان دے د دې نه پس صرف دويم قسم خبرې پاتې کيږي يعنې په خبرو کښې په څلورو کښې درې حصې (يعنې 75 فيصده) د استعمال وړ نۀ دي او صرف دويم قسم خبرې کومې چې صرف فائده

www.dawateislami.net

ورکوونکي دي صرف هغه د استعمال قابلې دي خو په دغه قابل استعمال خبروکښې دننه نرۍ‌شان ريا، ځان ښودلو، غيبت، تهمت، د دروغو مبالَغې، " د ما ما کولو افت " يعنې د خپل فضيلت، پاکې بيانولو وغيره وغيره انديښنې موجودې دي، نور دا چې د ګټه ورو خبرو کولو سره په فضول خبرو کښې د پرېوتو بيا د هغې په ذريعه د مخکښې تللو سره خدائے دې نۀ کړي چې په هغې کښې د ګناه کولو وغيره وغيره وېره شامله ده او د دې خرابيانو شامليدل داسې باريکه ده د کومې چې اکثر چاته علم نۀ وي، لهذا د دې قابل استعمال خبرو په ذريعه هم انسان په خطرو کښې را ګير وي- (احياءُ العلوم ج:3، ص:138)

## د دنيا خبره چې د خُلې نه ووځي نو څۀ ذِکرُ الله کول پکار دي

د الله پاک نيکانو بندګانو به صرف د دنيا (غير فضول) خبرې هم ښې نۀ ګڼلې، لکه څنګه چې به حضرت سيِّدُنا حَمَّاد بِن سَلَمَه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې کله څۀ د دنيا خبره اوکړه نو د هغې نه پس به يې "سُبۡحٰنَ اللهِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکۡبَر" لوستو بيا به يې فرمائيل: " زمونږ اَسلافو (مخکښينو بزرګانو) به په يو مجلس (يعنې ناسته) کښې صرف د دنيا خبرې ښې نۀ ګڼلې، چې د څو پورې به يې د هغې سره څۀ نيکه خبره نۀ ميلاوهله-"

(تنبيهُ المغترين، ص:190)

## کله چې د رحمت توجه واړولے شي

قړتن ګَس له خو وپړيدل پکار دي چې چرته زما د طرف نه د اللّٰهُ ربُّ العِزّت د رحمت توجه لرې نشي! حضرت سيِّدُنا شيخ مَعروف کرخي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د انسان بے کاره خبرې کول د اللّٰه پاک له خوا د بے مدده پرېښودو وجه جوړيږي۔" (تنبيهُ المغترين، ص:190)

## ښه اخلاق او د دين د پوهې نه محرومتيا

منافق که د دنيا په معامله کښې هر څومره عقلمند ولې نۀ وي خو هغه د ښو اخلاقو او د دين د پوهې نه محرومه وي ځکه هغه بد نصيبه او محرومه دے۔ د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے چې په منافق کښې دوه خَصلتونه نۀ جمع کيږي: ﴿1﴾ ښه اخلاق او ﴿2﴾ د دين پوهه۔

(ترمذي، ج:4، ص:313، حديث:2693)

## ډېرې خبرې کوونکے ډير ځله پښېمانه کيږي

د نصيحت نه ډک د عربۍ د يو شعر ترجمه ده: " عِلم ښکلا ده او خاموشي، سلامتيا، او چې کله درته خبرې کول وي نو زياتې خبرې مۀ کوئ۔ تاسو به په خاموشۍ چرې هم شرميدلي نه يئ۔ خو په خبرو به ډير ځله پښېمانه يعنې شرميدلي يئ۔" (تنبيهُ الغافِلين، ص:116)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! واقعي دا حقيقت دے چې په خاموشۍ کښې د پښېمانتيا يعني شرمېدو امکان ډېر کم دے او په هر ځائے کښې د " خبرو کولو " د عادت د وجې نه ډېر ځل انسان ته " بخښنه غواړم " وئيل را پيښېږي او معافي غوښتل وي يا په زړه زړه کښې پښېمانتيا وي چې ما دلته خبرې نۀ وے کړې نو ښه به وے ځکه چې زما په خبرو کولو د مخامخ کَس وېره ختمه شوه، ردې بدې مې واورېدلې، فلانکے خفه شو، د فلانکي رنګ زيړ شو، د فلانکي زړۀ خفه شو، زما تاثر پرې هم خراب پرېوتو وغيره وغيره- د حضرت محمد بن نضر حارثي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه څومره ښه خبره بيان کړے شوې ده: " د زياتو خبرو کولو سره عزت ختمېږي-"

(الصمت لا بن ابي الدنيا مع موسوعه ج 7، ص: 60، قول نمبر: 52)

## "په خبرو کولو" سره د پښېمانه کېدلو نه "د خبرو په نۀ کولو" پښېمانتيا ښه ده

رښتيا دي،چې " په خبرو کولو " سره د پښېمانه کېدلو نه " د خبرو په نۀ کولو" پښېمانتيا ښه ده او " د زيات خوراک سره " د پښېمانتيا نه " د کم خوراک کولو سره " پښېمانتيا ښه ده چې څوک ډېرې خبرې کوي نو په مصيبتونو کښې انښلي او څوک چې د زيات خوراک عادت وي نو هغه خپله معده تباه کوي، اکثر د بدن د غټ والي ښکار شي او قسما قسم

بيمارۍ يـې راګېر کړي، که چرې پۀ ځوانۍ کښې د مرضونو نه څۀ لږ ډېر بچ هم شي نو د ځوانۍ د تلو نه پس بعضې وخت "سراسر مرض" جوړ شي- د زيات خوراک د نقصانونو او د بدن د غټ والي د علاج وغيره نه د ځان خبرولو د پاره د فيضانِ سنَّت د وړومبي جلد باب "بھوک کے فضائِل" ولولئ-

## زياتو خبرو کولو والا د پښېمانتيا سره مخ کيږي

غلطه ناسته پاسته برباد ول کوي، غلط ځائے ته تلونکے بدنامېږي او قرتن انسان اخر شرمېږي- د حضرت سيِّدُنا لُقمانِ حکيم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پۀ باره کښې وئيلے شوي دي چې هغوئي خپل ځوي ته وفرمائيل: اے ځويه! ﴿1﴾ څوک چې د غلط کَس دوست او ملګرے جوړيږي هغه ته سلامتيا نۀ ميلاؤيږي او ﴿2﴾ څوک چې غلط ځائے ته ځي هغه بدنامېږي او ﴿3﴾ څوک چې د خپلې ژبې حفاظت نۀ کوي هغه شرمېږي-

(تنبيهُ الغافِلين، ص:115)

## څوک چې پۀ سوچ سره خبرې کوي د فضول خبرو نه بچ کيږي

د عقلمند شان دا دے چې پۀ سوچ سره خبره اوکړي، خپل وخت فضول خراب نۀ کړي، خپلې معاملې ته پام اوکړي،چې څوک داسې کوي نو هغۀ ته د فضول خبرو کولو موقع کله ميلاؤيږي! د حضرت سيِّدُنا اَبوذَر غِفاري رَضِیَاللّٰہُعَنۡہُ نه

روایت دے چې ما د مدینے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه چې پۀ ابراهيمي صحِيفو (يعني پۀ حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام باندې پۀ نازل شوؤ اسماني کتابونو) کښې څۀ مضمونونه وو؟ وه يې فرمائيل: پۀ هغې کښې تول عِبرت او نصيحت وو (پۀ هغې کښې دا هم وو چې)، پۀ عقلمند لازم دي چې د خپلې زمانې د حالاتو نه خبر وي او د خپلې ژبې حفاظت اوکړي- د خبرو کولو پۀ ځائے کار کوي او د هغه پۀ خبرو کښې فضول خبرې نۀ وي- (اللہ والوں کی باتیں، ج:1، ص:319، حلیۃ الاولیاء ج:1، ص:222)

## د کينسر مريضه ښه شوه

اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول هم څۀ ښکلي برکتونه دي، د دې برکتونو اندازې لګولو د پاره يو " مدني سپرلے " واورئ او خوشحاله شئ: د اولډ کانپور (هندوستان) د يو اِسلامي ورور خوش قسمتي وه چې د هغۀ د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره تړون نصيب شو- د هغۀ د [مور له طرفه د] نيا بي بي طبيعت ډېر خراب وو، ډېر علاجونه يې اوکړل خو شفا مېلاؤ نه شوه- ډاکټرانو ووئيل چې " د هغې کينسر دے او ورسره يې دا خبر هم واورولو چې دا د يو څو ورځو ميلمنه ده-" د وېرې دې خبر هغوئي وېرول، هغوئي د اللّٰہُ رَبُّ الْعِزّت پۀ باور د نيا د رغېدو دعا غوښتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي پۀ هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع کښې شرکت اوکړو او پۀ ژړا

ژړا یـې دعا اوکړه: چې ” یا اللہ پاکه! دلته چې ستا کوم هم محبوب بنده دے د هغوئي په برکت زما نیا ابی له صحت ورکړې-“ په بله ورځ چې کله د نیا ابی په خدمت کښې حاضر شو نو د هغهٔ د خوشحالی هډو څهٔ حد نهٔ وو ځکه چې په اجتماع کښې د عاشقانِ رسول ترمینځه د غوښتلے شوې دعا برکت داسې ظاهر شو چې د هغهٔ نیا ابی اوس کښېناستے شوه بلکې بنه روغه جوړه شوه او ګرځېدله-

ترا شکر مولا دیا مدنی ماحول نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول

سلامت رہے یا خدا مدنی ماحول بچے بد نظر سے سدا مدنی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص: 647)

## یوه بیماري هم لا عِلاجه نهٔ ده

سُبْحٰنَ اللہ! اللہ پاک په هر څیز قدرت لري، که هغه وغواړي نو کېنسر به هم ټیک شي- یقیناً د بوډاتوب او د مرګ نه سیوا د هرې بیمارۍ علاج شته- آؤ خو دا خبره بېله ده چې د ډېرو مرضونو علاج لا طبیبانو [ډاکټرانو] نهٔ دے معلوم کړے- ځکه د دې وئیلو په ځائے چې ” د فلانکي مرض علاج نشته “ مناسبه دا ده چې داسې ووئیلے شي چې زمونږ سره د دې بیمارۍ علاج نشته یا لا ډاکټرانو اوسه پورې د دې مرض علاج نهٔ دے معلوم کړے- بهر حال که ربِّ کریم وغواړي نو دوائي د شِفا ذریعه جوړه شي ګنې عین ممکن ده چې هغه دوائي به د مرګ وجه جوړه شي! او دا هم

اکثر ليدلے کيږي چې د ماهره ډاکټر د طرف نه مېلاؤ شوې د صحيح دوايی باوجود پۀ بعضې بعضې بيمار غلط اثر اوشي-

## د کېنسر روحاني علاج

اوّل او اٰخِر کښې يولس ځله دُرُودِ ابراهيم او پۀ مينځ کښې " سُورَةُ مَريَم " ولولئ او اوبۀ پرې دم کړئ، د ضرورت پۀ توګه ورسره نورې اوبۀ مېلاوهئ، مريض دې دغه اوبۀ هره ورځ څښې، دا عمل د څلوېښتو ورځو پورې بغير د ناغې نه کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! شِفا به وموِي- (بل څوک يــې هم د لوستو سره دمولے شي او پۀ مريض يــې څښلے شي)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## بيوقوفه چې د څو پورې خاموشه اوسي پېژندلے کيږي نۀ

د خاموشه اوسيدو سره بعضې وخت پۀ خلقو رُعب پروت وي، خلق ورته د عزت پۀ نظر ګوري او څوک چې هر وخت خبرې کوي د هغۀ رُعب ختمېږي او د هغۀ د خبرې " وزن " هم نۀ پاتې کيږي- ابراهيم نَخعِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: " څوک چې غور اوکړي نو پۀ ټول مجلس کښې به اشرف (يعني د ټولو نه زيات شريف) او زيات رُعب والا هُغه ګس وموِي کوم چې اکثر خاموشه وي، ځکه چې خاموشي د عالِم د پاره ښکلا ده او د جاهل د پاره پرده-" (تنبيه المغترين، ص:190)

## که چرې د نیمې شپې پورې نمر نهٔ پرېوځي نو ؟ (واقعه)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! واقعي ده چې د ژبې بندې ساتلو سره عزت جوړ وي، انسان چې کله خبرې شروع کړي، نو د هغهٔ د پوهې پته لګي- وئیلے کیږي چې د امامِ یوسف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره یو ګس ناست وو خو کله به یې هم څهٔ نهٔ وئیل- یو ځل حضرت امام ابو یوسف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغهٔ ته وفرمائیل: تهٔ څهٔ سوال ولې نهٔ کوې؟ همېشه چپ ناست یې؟ دې اورېدو سره هغهٔ پوښتنه اوکړه: ښه دا ووایئ چې روژه کله ماتول پکار ده؟ وه یې فرمائیل: کله چې نمر پرېوځي- هغهٔ ووئیل: که چرې د نیمې شپې پورې نمر نهٔ پرېوځي نو بیا؟ د دې پوښتنې اورېدو سره حضرت امام ابو یوسف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خندا شو او وه یې فرمائیل: ستا خاموشه اوسیدل ښهٔ وو، ما ستا ژبه پرانسته ،غلطي مې اوکړه-

(تاریخ بغداد، ج:14، ص:251)

## کاش! زهٔ ګونګے وے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! که وکتلے شي نو نابینا پهٔ فائده کښې وي چې پردۍ زنانه، فلمونه، ډرامې، د چا " هاف پینټ " والا ګس کولاؤ پنډۍ او ورنانو لیدو، پهٔ بې ګیرو هلکانو د " خاص خوند " والا نظر نهٔ غورځېدو وغېره وغېره ګناهونو نه بچ وي، دغه شان ګونګے هم د ژبې د

بے شمېره افتونو نه محفوظ وي- د مسلمانانو وړومبے خليفه، عاشقِ اکبر، حضرت صديقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د (عاجزئ پۀ توګه) فرمائي: ” كاش! چې زۀ ګونګے وے خو د ذِکرُ الله د حده پورې راته د خبرو كولو صلاحيت حاصل وے-“ (مرقاۃالمفاتیح، ج:10، ص:87)

## كاش! چې دا ګونګی وے

پۀ ” احياءُ العلوم “ كښې دي: صحابي رسول، حضرت ابودَردا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يوه ورځ يوه ګز ژبې (يعني ډېرې خبرې کوونکې) زنانه وليدله نو وه يې فرمائيل: كه چرې دا ګونګی وے نو د دې پۀ حق كښې به بهتره وه- (احیاءُ العلوم، ج:3، ص:142)

## كور به د سكون نه ځنګ ډكېږي!

د الله پاک د ډېر خوږ اخري نبي، مكي مدني، محمدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ صحابي حضرت ابودَردا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مبارک ارشاد نه دې خاص طور زمونږه اسلامي خوئېندې سبق حاصل كړي كومې چې د فضول خبرو، غېر ضروري پوښتنو، بد ګمانو او غېبتونو وغېره نه نۀ وزګارېږي، كه چرې پۀ صحيح معنو كښې خاموشه اوسېدل زده كړي نو د هغوئي كورنی پرېشانی، د ټولو خپلوانو سره نۀ لګېدل، او د خواښې او اينګور جنګ جګړې وغېره ډېرې مسئلې به حل شي او ټول خاندان به پۀ سكون شي

ځکه چې کورونو کښې جګړې د ژبې د غلط استعمال په وجه کيږي-

## د سوشل ميډيا يو قابل غور پوسټ

د سوشل ميډيا يو پام راګرځوونکے پوسټ د معمولي فرق سره وړاندې کولے شي، يوې جينۍ پوسټ اوکړو: که چرې د وادهٔ نه پس د مور پلار ځان سره ساتلو حق لونړو ته مېلاؤېدے نو ملک کښې به يو " اولډ هاؤس "هم نهٔ وو- پهٔ دې يو هلک ډېر ښکلے جواب ورکړو چې که چرې دغه لونړه د وادهٔ نه پس سخر خواښې پلار او مور اوګڼي نو ملک خو څهٔ کړې چې پهٔ ټوله دنيا کښې به يو اولډ هاؤس پاتې نهٔ شي -
پهٔ دې پوسټ کښې صرف د هغه زنانوؤ د پوهه کولو کوشش شوے دے کومې چې د خپلې خواښې، ايندوريانو وغيره پهٔ مخکښې ښه ډېره ژبه چلوي او د کور امن خرابوي، ګنې نو معاشره کښې پهٔ سخرګنۍ کښې د ظلم ښکار زنانوؤ هم يوه لويه شمېره مېلاؤېږي-

## د خواښې او اينګور د جګړې ختمولو نُسخه

که چرې خواښې رټل کوي نو " اينګور " له پکار دي چې صرف صبر کوي، پهٔ جواب کښې دې يو لفظ هم نهٔ وائي او خپل خاؤند ته دې شکايت هم نهٔ کوي، تندے دې هم نهٔ تريو کوي، او د خپلو بچو رټلو يا د لوښو وغيره ماتولو سره دې هم غصه نهٔ سړوي او د پلار کور کښې دې هم څهٔ

نهٔ وائي، اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! پهٔ ورو ورو به د کور مسئلې حل شي- داسې که چرې يوه اينګور د خپلې " خواښې " سره جګړه کوي نو خواښې له پکار دي چې جوابي کاروائي نهٔ کوي، صرف خاموشي دې اِختياروي، د کور يو ګس د دې پورې چې خپل ځوي ته دې هم شکايت نهٔ کوي- اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! د دې متل " ايک چپ سو سُکھ " مطابق به سکون وموي- آؤ جي! که چرې پهٔ صحيح معنو کښې د سګِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ پهٔ دې " نُسخه " عمل اوکړے شو نو اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! ډېره زر به د خواښې او اينګور جګړه ختمه شي او کور به د سکون نه ډک شي-

## د خاموشۍ پهٔ برکت سره د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار

يوې اسلامي خور د دعوتِ اِسلامي د مکتبة المدينه د طرف نه جاري شوے د خاموشۍ د اهميت پهٔ باره کښې د سنتو ډک بيان آډيو کېسټ اورېدو سره پهٔ خاموشۍ اوسېدل شروع کړه، پهٔ درېو ورځو کښې هغې ته اندازه وشوه چې ﻣﺨﮑښې به هغې ډېره فالتو خبرې کولې! اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الکریم د خاموشۍ پهٔ برکت سره هغې ښه ښه خوبونه ليدل شروع کړل، د فضول خبرو نه د بچ کېدو د کوشش پهٔ درېمه ورځ هغې د مکتبة المدينه نه جاري شوے د سنتو ډک بيان يو بل آډيو کيسټ د "اطاعت کسے کہتے ہیں" پهٔ نوم واورېدو- چې د شپې کله اوده شوه نو اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الکریم پهٔ کېسټ کښې يوه بيان شوې واقعه هغې پهٔ خوب کښې وليدله! " د جنګ نقشه وه، د مدينے

سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دښمن د جاسوسۍ د پاره خپل صحابي حضرت حُذیفه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روانوي، هغوئي د کافرانو د خېمو خوا ته رسېږي نو هغوئي د کافرانو سردار حضرت ابوسفیان (کوم چې هغه وخته پورې لا مسلمان شوے نۀ وو) ولاړ په نظر راځي، د غنیمت موقعې کېدلو سره حضرت حُذیفه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غشے کمان ته خېژوي چې هغوئي ته د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا حکم یاد شي چې " کافرانو ته خبر نۀ وي " نو د خپل خوږ آقا، مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمانبردارۍ کولو سره غشے نۀ وَلي، بیا حاضرېږي او د تاجدارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې کارکردګي وړاندې کوي- اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الْکَرِیْم په دې خوب کښې دغې اسلامي خور ته د مدینے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او دوؤ صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا صفا صفا زیارت نصیب شو، نورې ټولې نظارې ورته خړې خړې ښکاره کېدلې-" اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! صرف د درېو ورځو د فضول خبرو نه د بچ کېدو په کوشش په هغې د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډېر لوئي کرم وشو، د هغې وینا وه چې: بس زما ارمان دے چې چرې مې هم د ژبې نه څۀ فالتو لفظ وه نۀ ووځي-

اللہ کروں میں نہ کبھی فالتو باتیں
بس ذِکر میں گزریں مرے دن اور مری راتیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب د خبرو کولو آداب نه د اوسه پورې د راغلو 6 قِسطونو ډاؤن لوډ کولو د پاره لاندې ورکړے شوي QR Code سکین کړئ۔


















د راتلونکې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net